د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست

د کیفیت د تضمین آمریت




# د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ کال د حمل د لومړۍ نیټې څخه د حوت ترپای پورې.

## د مطالبو نوملړ


**د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې/ کلني تشریحي راپور دچمتو کوونکو نوملړ ........ 3**

**د ارزګان ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 4**

پیلامه ........ 5

**د کړنو لنډیز ........ 6**

**د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........ 8**

دویمه برخه: کیفیت او تړاو ........ 8

۱. پروګرام: ښوونه او روزنه ........ 8

۲. اسلامي زده کړې ........ 10

۳. د کیفیت تضمین ........ 11

۴. سرچینې او اداره ........ 13

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور ........ 14

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 15

۱. ښوونه او روزنه ........ 15

۲. اسلامي زده کړې ........ 17

3. سرچینې او اداره ........ 18

۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور ........ 20

3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت ........ 20

۱. ښوونه او روزنه ........ 20

۲. اسلامي زده کړې ........ 23

3. سرچینې او اداره ........ 23

۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور ........ 25

**د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 28**

**تحلیل او پایلې ........ 30**

**د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 56**

**مالي ریوټ تحلیل ........ 57**

**ملپاڼې ........ 58**

| نوم او کورنی نوم | دنده | برېښنا لیک | گرځنده شمېره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوی رحمت الله (رحمتی) | آمر تضمین کیفیت | Rahmatullahrahmati46@gmail.com | 0700029173 | |
| مولوی مصطفی (ذاکری) | آمر منابع اداری | Mustafa zakiri 700@gmail. com | 0708496966 | |
| مولوی عصمت الله (عاصم) | آمر تعلیمات عمومی | 0 | 0701505261 | |
| مولوی مطیع الله (آبوالحسن) | آمر تعیمات اسلامی | Abulhasnmateallah.@gmail.com | 0700915662 | |
| قدرت الله (مسلم) | دراپوړونو دتحلیل او توحید مسلکی غړی | 0 | 0749058892 | |
| عنایت الله (ایمل) | دراپوړونو دتحلیل او توحید مسلکی غړی | Rahmani.enayatullae 039.@gmail.com | 0766509834 | |

د پوهنې د رئیس تاییدي:

| نوم او تخلص | دنده | برېښنالیک | گرځنده شمېر/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوی شمس الله آخنذاده (کامران) | دپوهنې رئیس | Alhaj maulvi.shamsu llah.ahund.zada .@ gmail.com | 0777751126 | |

## د ارزګان ولایت په هکله عمومي معلومات

ارزګان ولایت د افغانستان د مرکزي ولایتونو څخه دی چې مرکز یې ترینکوټ نومیږي. د مرکزي احصائیې د ارقامو پر بنسټ د دې ولایت د ټولو وګړو شمیر ۵۰۰۰۰۰ تنو ته رسیږي.

نوموړی ولایت د مرکز په ګډون ۷ ولسوالۍ لري چې عبارت دي له: مرکز ترینکوټ، خاص ارزګان، دهراود، ګیزاب، چوره، چهارچینه او چنارتو ولسوالیوڅخه. په ښوونځیو کې د تشکیل د ستونزو له کبله ښوونې او روزنې ته سل سلنه لاس رسی نه کیږي او د ښوونې او روزنې په نظام یې ناوړه آغېزه کړې ده.

په ارزګان ولایت کې دسواد کچه ۳۹٪ سلنه ده چې په دغه ولایت کې ۱۱٪ خلک په ښار او ۸۹ فیصده خلک په اطرافو کې ژوند کوي.

په یاد ولایت کې یو دولتي پوهنتون شتون لري، چې د زراعت، تعلیم و تربیه، کمپیوټرساینس، او شرعیات پوهنځي لري.

**ښوونه او روزنه:** د عمومي زده کړو پروګرام اړوند ټولټال ۱۹٦ بابه ښوونځي لري، چې لدې جملې څخه ۴۱ بابه لیسې ۴۰ بابه منځنۍ او ۱۱۵ لومړني ښوونځي دي.

په پورته ټولو ښوونځیو کې د عمومي زده کړو په برخه کې۷۰۳۵۹ تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې ۵۸۷۵۹ تنه ذکور او ۱۱٦۰۹ تنه اناث دي.

په ۱۴۰۳ کال کې په ټولو ښوونځیو کې ټولټال ۱۴٦٦۲ تنه زده کوونکي جذب شوي دي چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۱۱۳۵۸ تنه نارینه او ۳۳۰۴ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

**د اسلامي زده کړو پروګرام اړوند تعلیمي مرکزونه:** د اسلامي زده کړو د برنامې د مرکزونو شمېر٦۸۵ بابه کیږي، چې لدې جملې څخه ٦۳۹ بابه مدارس، ۱ باب دارالعلوم او۴۵ بابه دارالحفاظونه دي.

په پورته دیني مرکزونو کې ټولټال ٦٦۸۷۲ تنه طالب العلمان په زده کړو بوخت دي، چې لدې جملې څخه ۵۲۸۴۰ تنه نارینه او ۱۴۰۳۲ تنه ښځینه طالب العلمان دي. همدارنګه پورته طالب العلمانو ته د ۱۱٦۴ تنو نارینه مدرسینو لخوا تدریس کیږي.

ارزګان ولایت ټولټال ۳۵ بابه د سواد زده کړې فعال کورسونه لري، چې په دغه کورسونو کې ۱۰۴۱ تنه زده کوونکي زده کړې کوي چې دهغې جملې څخه ۹۵۱ تنه نارینه او ۹۰ تنه ښځینه دي.

## پیلامه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. اما بعد:

د ارزگان ولایت د ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په دریو برخو کېفیت او تـړاو، انډولیز لاسرسـی او روڼ او ځواب ویونکی مدیریت کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، په سطحه کې د پلي کېدو پـه حـال کـې دی، چـې د پرمختـګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشـتني او کلنـي راپورونـه چمتـو او اړونـده ادارو تـه استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینی موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونـو کـې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوي نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته بڼه والې ور وبخښي.

دارزګان ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیرد په دوام د عملیاتي پلان د ۱۴۰۳ کال کلنی د کړنو د پرمختګ تشریحي راپور د دري عرصو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت ترپای پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکی دی.

۱ ـ د کړنو لنډیز برخه

۲ـ د دریو عرصو په اساس د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ تحیل او نتیجه ګیری برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

٦ـ مالي راپور برخه

۷ـ د معلوماتي او احصایوي ملپاڼو برخه

## لومړی برخه

## د کړنو لنډیز

### 1. کیفیت او تړاو

### 1 . ښوونه او روزنه

- د انکشاف مسلکي غړو لخوا په مرکز ترینکوټ، چوره اوخاص ارزگان ولسوالی کې ۳۸۱ تنه ښوونکو، مدیرانو او سر ښوونکو ته دعلمي افکارو مسؤولیت منلو او ښه چلند په برخه کې روزنه ورکړل شوه.
- د سواد زده کړې مدیریت لخوا ۸٦ نفرو ته د سواد زده کړې د پروگرامونو د ښه تطبیق او همدارنگه د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي کولو په هکله روزنیز ورکشاپ په لاره واچول شو.
- د ساینس مدیریت لخوا 6 تنو علمي غړو ته په مرکز ترینکوټ کې د ساینس، ریاضي او کمپیوټر په برخه کې علمي او عملي روزنه ورکړل شوه.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې ۲۰۴ تنه نویو مقرر شویو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړولو په موخه سیمینار په لاره واچول شو.
- د انکشاف مسلکي غړو لخوا په مرکز ترینکوټ(چنارتو، گیزاب، دهراود، چهارچینو او خاص ارزگان) ولسوالی کې د ۴۴٦ بابه مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیا کتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه څارنه ترسره شوه.

### 3. کیفیت تضمین

- د نتایجو مدیریت لخوا د دولتي او خصوصي ښوونځیو فارغ زده کوونکو لپاره ۲۲۴ گروپي شهادتنامې ترتیب،تائید او ویشل شوي دي.
- د نتایجو مدیریت لخوا د ۲۸ بابه ښوونځیو د ۲۵۹ تنو فارغ زده کوونکو د نتایجو جدولونه تدقیق،تطبیق او تایید شوي دي.
- د مرکزي ټیم له لوري د پوهنې ریاست ۴۲ کارمندانو ته د راپور ورکولو په برخه کې روزنه ورکړل شوه.

### 2. انډولیز لاسرسی

### 1. ښوونه او روزنه

- په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې ټولټال ۱۴٦٦۲ تنه زده کوونکي جذب شوي دي چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۳۳۰۴ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

- په مرکز ترينکوټ،ګيزاب او چورې ولسوالۍ کې ۳۰ د څارندوی ټيمونه جوړ شوي دي.
- د سواد زده کړې په کورسونو کې ۷۴۰ تنه نالوستي کسان جذب شوي دي.
- د سواد زده کړې مديريت لخوا په مرکز ترينکوټ کې ۴ دانې پروګرامونه د بروشرونو له لارې او همدارنګه ۵۶ پروګرامونه په مرکز ترينکوټ،(چوره او خاص ارزګان) ولسوالۍ کې د جوماتونو دملا امامانو له طريقه دسواد د اهميت په اړه ترسره شوي دي.

### 2. تعليمات اسلامی

- په مرکز ترينکوټ او ټولو ولسواليو کې ټولټال ۷۷ کليوالي مدرسې او په تعداد ۱۰ کليوالي دارالحفاظونه جوړ شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمريت اړوند په مرکز او ولسواليو کې ۲۳۸ مدرسې نوې ايجاد شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري په مرکز ترينکوټ او ټولو ولسواليو کې ۳۰۰ تنه طالب العلمانو ته دليليې ترتيب برابر شويدی.

## 3. آغېزمن، روڼ او ځواب ويونکی مديريت

### 1. ښوونه او روزنه

- دوړتياوو د معلومولو ملي او نړيوالو سياليو ته دمعرفي کولو په موخه ۱۱ ورزشي سيالۍ په مرکز ترينکوټ او خاص ارزګان ولسوالۍ کې په لاره اچول شوي دي.
- د سواد زده کړې پروګرامونو څخه د مرستې او ملاتړ په موخه ۹ غونډې جوړې شويدي.

### 3. سرچينې او اداره

- په ارزګان ولايت کې ټولټال ۵۰۶ خالي بستونه بيژندل شوي دي.
- د ارزګان پوهنې رياست په سطحه ټولټال ۱۹۲ تنه کارمندانو ته د هويت/پيژند کارتونه چاپ او ويشل شوي دي.
- دپوهنې رياست په سطحه ۱۱۳ تنه مامورين، ۱۱ تنه ښوونکي، ۱۱۶۵ تنه استادان چې ټولټال ۱۲۸۹ تنه کيږي دتدريسي او اداري چارو دسمون په موخه ګمارل شوي دي.
- د ارزګان ولايت پوهنې رياست په سطحه ۱۱ تنه کارکوونکي په شرايطو برابر تقاعد ته سوق سوېدي.

### ۴. رياست اړوند فعاليتونه

- په مرکز ترينکوټ او ولسواليو کې (۷۵۶) تنه کارمندانو ته د اسلامي شريعت د احکامو سره سم توصيه او د هغوی د صورت او سيرت اصلاح او داسلامي امارت د پاليسی پر بنسټ د اولوالامر اطاعت کولو ته رابلل شوي دي.

## دویمه برخه

# د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

## دویمه برخه: کیفیت او تړاو

**تولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ښوونځیو دکتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکزساینس مدیریت لخوا د ښوونځیو د کتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړونه د وسایطو د نشتون له امله نه دی ترسره شوې.

**1.2 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د سواد زده کړو د د څلورمې سویې 4-6 ټولګي کتابونو تجربوي تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه تیم ندی راغلی ترڅو د کتابونو تجربوي تطبیق ترسره کړي.

**1.3 فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو لخوا د چوره ولسوالۍ ۵، چنارتو ۲ او دهراود ولسوالی ۸ بابه د سواد زده‌کړې کورسونو څخه څارنه ترسره شوې ده. د یادې څارنې پر مهال ښوونکو ته د تدریس د مؤثرو میتودونو په اړه لازمي لارښوونې هم ورکړل شوې دي.

**1.4 فعالیت: د ولایتونو په کچه د علمي غړو مربیانو ظرفیت لوړل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست ۱۳ تنه علمي غړو ته د مرکزي تیم له لوري روزنه ورکړل شوه. او همدارنګه د ولایتي ټیم له لوري د ولسوالیو علمي غړو ته روزنه د بودیجې دنشتون له امله نه دی ورکړل شوې.

**1.5 فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د ښوونکود مسلکي غړو لخوا په مرکز ترینکوټ، چوره اوخاص ارزګان ولسوالی کې ۳۸۱ تنه ښوونکو، مدیرانو او سر ښوونکو ته د علمي افکارو مسؤولیت منلو او ښه چلند په برخه کې روزنه ورکړل شوه، چې د ۳۸۱ تنو له جملې څخه ۲۲۴ تنه ښوونکي، ۸۸ تنه مدیران او ۶۹ تنه سر ښوونکي شامل دي.

**1.6 فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کیدو په موخه لازم چمتوالی؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه ټیم ندی راغلی ترڅو کارکوونکو ته د جواز ورکولو سیستم په برخه کې روزنه ورکړي.

**1.7 فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوملولپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکز ساینس مدیریت لخوا د لابراتوارونو د اړتیاوو معلومولو په موخه په مرکز ترینکوت، چوره، خاص ارزګان، دهراود، چنارتو، چهارچینو اوګیزاب ولسوالیو کې ۸ سروې ګانې ترسره شوي دي.

**1.8 فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکز ساینس مدیریت لخوا په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو په موخه څارنه ترسره شوې، چې د یادې څارنې په ترڅ کې مسؤولینو ته دلابراتوارونو او کمپیوټرونو داغیزمنتوب او کارولو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې.

**1.9 فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د مرکزساینس مدیریت لخوا ۶ تنو علمي غړو ته په مرکز ترینکوټ کې د ساینس، ریاضي او کمپیوټر په برخه کې علمي او عملي روزنه ورکړل شوه.

**1.10 فعالیت: د مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش** WASH Deworming **په برخه کې د څاروندی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسي اوثانوي مدیریت مربوط صحت مدیریت لخوا ۱ ورکشاپ په مرکز ترینکوټ کې دایرشو، چې ۱۴ تنه د بدني روزنې ښوونکي، ۵ تنه د اصول صنفي ښوونکي،۴۰ تنه ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او مسلکي غړو ته او همدارنګه ۶۲۰ تنه زده کوونکو ته د روغتیا په برخه کې روزنه ورکړل شوه.

**1.11 فعالیت: د څارنې ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند سواد زده کړې مدیریت لخوا په مرکز ترینکوټ کې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي په موخه سیالۍ په لاره واچول شوه ترڅو افراد د سواد زده کړې په اهمیت او همدارنګه د سواد زده کړې لپاره تشویق شي.

**1.12 فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښـودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند سواد زده کـړې مـدیریت لخوا پـه مرکـز او ولسوالیو کې ۸۶ نفرو ته د سواد زده کړې دپروګرامونو د ښه تطبیق او همدارنګه د ترتیب شـویو لایحـو، طرزالعملونـو او لارښـودونو د معـرفي کولو په هکله روزنیز ورکشاپ په لاره واچول شو.

**1.13 فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پـلي کولـو لپـاره د سرچینـو تشـخیص او ترلاسـه کـول، د دولتـي، غیـر دولتـي بنسـټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره مرسته د فقر او غربت له وجې نده ترلاسه شوې.

**1.14 فعالیت: د سیمه ییزو خلکو رضا کارانو له لارې د ۱۸ ولایتونو په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کـې د کلیـو د سـواد زده کړې کمېټیو د غونډېو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند سـواد زده کـړو مـدیریت لخـوا پـه مرکـز او ټولو ولسوالیو کې په تعداد ۳۵ کلیوالې غونډې جوړې شویدي.

**1.15 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا؛ همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شـتون لـري، د پـوهنې پـه برخـه کـې د خصـوصي سـکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛"**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی،ځکه چې له مرکز څخه ټیم نـده راغلـی ترڅـو د خصـوصي ښـوونځیو د قـانوني اسنادو د تطبیق څارنه ترسره کړي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې مدرسو دارالعلوم ته د ارتقاء شرایط ندي برابر کړي.

**2.2 فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د انکشاف مسلکي غړو لخوا د ارزګان ولایت مرکزي دارالعلوم څخه څارنه ترسره کړه چې د یادې څارنې پـه نتیجه کې د دارالعلوم ۲۰ اړتیاوې په ګوته شوي دي.

**2.3 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو له لـوري پـه مرکـز ترینکـوټ کـې ۲۰۴ نویـو مقـرر شویو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړولو په موخه سیمینار په لار ه واچول شو.

**2.4 فعالیت: د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي- کـارونو د بیـاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګـان ولایـت پـوهنې ریـات اسـلامي زده کـړو آمریـت اړونـد د انکشـاف مسـلکي غـړو لخـوا پـه مرکـز ترینکوټ(چنارتو، ګیزاب، دهراود، چهارچینو او خاص ارزګان) ولسوالی کې د ۴۴۶ بابه مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کـارونو

د بیا کتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه څارنه ترسره شوه، چې د یادې څارنې په نتیجه کې د مدرسو او دارالحفاظونو ۲۲۸ اړتیاوې په ګوته او مشخصې شویدي.

**2.5 فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري ۹۶۲ تنه علماء کرامو ازموینې په ډیټابیس کې ثبت شویدي.

**2.6 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز ترینکوټ کې د ټولو ولسوالیو څخه ۲۱ تنه د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د انکشاف مسلکی غړو لخوا د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه سیمینار ورکړل شو.

**2.7 فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت په سطحه ۸۲۶ تنه فارغان د عالیه او عالمیه ازموینې په موخه ثبت شوي دي.

## ۳. د کیفیت تضمین

**3.1 فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې د مرکز څخه راغلي هیئت په همکارئ د احصائیه مدیریت لخوا ۱۰ ورکشاپونه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولو په موخه په لاره اچول شوي دي.

**3.2 فعالیت: د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییِوي ارقامو 10% کتنه او تصدیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصائیې مدیریت لخوا د ښار او ټولو ولسوالیو د ۱۴۰۲ کال د احصائیې ارقام چک او راپورونه یې تائید شویدي.

**3.3 فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ولایتي پروفایل لپاره ټول لازم مواد د اړونده څانګو څخه راټول شوي دي او مربوطه مرجع ته په خپل وخت استول شوي دي.

**3.4 فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛"**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ولایتي پروفایل لپاره ټول لازم مواد د اړونده څانګو څخه راټول شوي او مربوطه مرجع ته په خپل وخت استول شوي دي.

**3.5 فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د احصایې مدیریت له لوري د ارزګان ولایت په سطحه د ۴۶۲ بابه نویو تأسیس شویو او همدارنګه د تیروکلونو د پاتې شویو ښوونځیو مختصات راټول شوي دي.

**3.6 فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نتایجو مدیریت لخوا د دولتي او خصوصي ښوونځیو فارغ زده کوونکو لپاره ۲۲۴ گروپي شهادتنامې ترتیب،تائید او ویشل شوي دي.

**3.7 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، ارزگان ولایت ته سپینې شهادتنامې ندي راکړل شوي، ځکه چې دشهادت نامولپاره فیس ندی تحویل شوی.

**3.8 فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولگیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د شهادتناموعمومي مدیریت لخوا د ۲۸ بابه ښوونځیو د ۲۵۹ تنو فارغ زده کوونکو د نتایجو جدولونه تدقیق،تطبیق او تایید شوي دي.

**3.9 فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان د پوهنې ریاست لپاره له مرکز څخه یو دوه کسیز ټیم راغلی و. د دغه ټیم موخه دا وه چې د راپور ورکولو په برخه کې د مرکزي هستې ټولو مدیریتونو د راپور مسؤلینو ته څلور ورځنۍ روزنیز ورکشاپ برابر کړي، ترڅو وکولای شي میاشتني او ربعوار راپورونه د پالیسي، طرزالعمل، رهنمود او ټاکل شویو فارمټونو مطابق ترتیب کړي او په خپل وخت یې له مرکز سره شریک کړي. په یاد ورکشاپ کې ۴۲ تنو گډون کړی و.

**3.10 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت څخه ټیم ارزگان ولایت ته راغلی و ترڅو د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست دعملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه ترسره کړي.

**3.11 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت څخه راغلی هیئت د ارزگان ولایت پوهنې ریاست دهمکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه ترسره کړه.

**3.12 فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو آنلاین سیستم په ارزگان ولایت کې نلرو.

**3.13 فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت څخه ټیم راغلی و ترڅو د راپور ورکولو آنلاین سیستم فعاله او د تحلیل او توحید گزارشاتو غړو ته روزنه ورکړي ترڅو میاشتني راپورونه د راپور ورکولو آنلاین سیستم کې په خپل وخت ثبت کړي.

**3.14 فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کیفیت د تضمین آمریت له لوري د پوهنې وزارت څخه رالیږل شویو فارمټونو کې د مربوطه برنامو او د ولسوالیو پوهنې آمریتونو څخه میاشتني راپورونه راټول او د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو په هکله ۴ ربعوار راپورونه ترتیب او د پوهنې وزارت سره په خپل وخت شریک شوي دي.

**3.15 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه ټیم نده راغلی ترڅو د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیاوو ارزونه او تجربوي تطبیق ترسره کړي.

**3.16 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ټیم نـده راغلی ترڅـو د تقنیـني سـندونو ا و پالیسـیو پـه برخه کې کارکوونکو ته روزنه ورکړي.

## ۴. سرچینې او اداره

**4.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت پوهنې ریاست دمالي او اداري چارو آمریت اړوند حسابداری مدیریت ۲ تنه کارمندانوتـه د مالي چارو په برخه کې روزنه ورکړل شوه، چې په نتیجه کې یادو کسانو پوهاوی زیات شوی.

**4.2 فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د اداري کارکوونکو لپاره د ظرفیـت لوړولـو سـتراتیژۍ طرحه د مرکز څخه نده رالیږل شوې.

**4.3 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کولو په موخه یوه کمیټه جوړه شـوې ده ترڅو ټولې سوانح چک کړي.

**4.4 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو آمریت اړونـد د املاکـو عمـومې مـدیریت لخـوا پـه مرکز ترینکوټ کې د ۸ بابه ښوونځیوپه چهارچینو کې ۶ بابه ښوونځیو اوپه خاص ارزگـان ولسـوالی کـې ۵ بابـه ښـوونځیو او۴۲ بابـه مدارسـو لپاره اسنادونه ثبت اوکتاب ته رسیدلې دي.

**4.5 فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو آمریت اړونـد د املاکـو عمـومې مـدیریت لخـوا پـه مرکزترینکوټ کې ۱۰ بابه ښوونځیو په چهارچینو کې ۱ باب ښوونځي او په خاص ارزگان ولسوالی کـې ۵ بابـه ښـوونځیو او همدارنگـه د ۴۲ بابه مدارسو لپاره ملکیتونه ثبت شویدي اوپه چهارچینو ولسوالی کې ۵ بابـه ښـوونځیوپه خـاص ارزگـان ولسـوالی کـې ۵بابـه ښـوونځیو لپـاره سجلونه ترتیب شویدي.

**4.6 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعـاتو د حـل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو آمریت اړونـد د املاکـو عمـومې مـدیریت لخـوا پـه مرکزترینکوټ کې ۸ اوپه چهارچینو ولسوالی کې ۴ دانې قضې کنټل شویدي اوپه مرکزترینکوټ کې ۱۲بابه ښوونځیو په چوره ولسـوالی کـې

د۱ باب ښوونځي په خاص ارزګان ولسوالی کې۷ بابه ښوونځیو اوپه چنارتو ولسوالی کې۲ بابه ښوونځیو دثبت شویو غصبي او دعوایي اسنادو دوسیې تکمیل شویدي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور

**5.1 فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست ته د پوهنې وزارت څخه یوټیم راغلی چې د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه ډاډ ترلاسه کړی.

**5.2 فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست اړوند د نشراتومدیریت اوعامه اړیکو ریاست لخوا د ارزګان پوهنې ریاست ته ۲۲۳ عرفان مجلې او ۱۴۹بخوان وبیندیش مجلې او۸۹۴ د پوهنې اونیزي مجلې رالیږل شوي دي چې یادې مجلې د پوهنې ریاست اداري کارمندانو، د ولسوالیو پوهنې آمریتونو، ولایت مقام او اطلاعاتو فرهنګ ریاست کارمندانو ته ویشل شوي دي.

**5.3 فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې وزرات څخه د یو کلنې کړنې په هکله کتابونه دپوهنې وزارت څخه ارزګان ولایت ته ندي رالیږل شوي.

**5.4 فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې دپوهنې وزارت څخه ارزګان ولایت ته داسې کوم ټیم سفر ندی کړی چې ترڅو د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه ترسره کړي.

**5.5 فعالیت: تر پوښښ لاندې ولایتونو د پوهنې ریاستونو د اسلامي زده کړو مرکزونو ته دارالعلومونو او دارالحفاظونو د ۲۸۲۹۷۲ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نشراتو او عامه اړیکو ریاست له لوري د ارزګان ولایت د دارالعلومونو لپاره ۳۰۸۱۱ جلده کتابونه رالیږل شوي چې یاد کتابونه د اسلامي زده کړو آمریت ته سپارل شوي دي.

**5.6 فعالیت: د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۸۱۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، دنشراتو او عامه اړیکو ریاست له لوري په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې کتابونه ارزګان ولایت ته ندي رالیږل شوي.

**5.7 فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۴۴۹۶۵ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د نشراتو او عامه اړیکو ریاست له لوري د بدنې روزنې دښوونکو د لارښود کتابونه ارزګان ولایت ته ندي رالیږل شوي.

**5.8 فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لوري د کارونو د پراوونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارې ندي ترسره شوي،ځکه چې استهلاک کتابونه نلرو.

**5.9 فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې،د ارزګان پوهنې ریاست ته د پوهنې وزارت څخه ټیم راغلی و تر څو د پلټنې مدیریت ۴ کارکوونکو ته د پلټنې په برخه کې روزنه ورکړې.

**5.10 فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست ته د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس مولوی جمعه خان سروري او ورسره مل پلاوي سفرکړی د پوهنی د رئیس په ګډون د ټولو کارمندانو سره غونډه وکړه اواسلامي احکام ئې ورته بیان کړه.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**ټولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کیفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د ترسره شوِي تحقیق سره سم په ښوونځیو کې د ښوونکو د غیرحاضرى د کمولو په موخه د پالیسی ازمایښتي تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه ټیم نده راغلی ترڅو د ښوونکو دغیرحاضری د کمولو په موخه د پالیسی ازمایښتي تطبیق ترسره کړي.

**1.2 فعالیت: د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د مسلکي پراختیا پروګرامونه تر امر ثاني پورې ځنډیدلي دي.

**1.3 فعالیت: د ولایتونو په کچه د ترل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه ټیم نده راغلی ترڅو د ترل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو په اړه لازم اقدامات ترسره کړي.

**1.4 فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز ترینکوټ او (دهراوود، چوره او خاص ارزګان) ولسوالی کې ۳ لابراتوارونه ایجاد او په چهارچنو ولسوالی کې ۱ باب لابراتوار تجهیز شوی ده او همدارنګه په مرکز ترینکوت کې ۱ کمپیوټر لب جوړ شوی ده.

**1.5 فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې ټولټال ۱۴۶۶۲ تنه زده کوونکي جذب شوي دي چې د یادو ارقامو له جملې څخه ۳۳۰۴ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

**1.6 فعالیت: د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه په ارزګان ولایت کې د نویو تأسیس شویو ښوونځیو لپاره عریضې د پوهنې وزارت محترم مقام ته استول شوي دي چې تراوسه ندي راغلي.

**1.7 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخواني همغږۍ پر بنسټ د منځنۍ دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لېسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول؛**

د ارزګان ولایت پوهنې ریاست دعمومي زده کړو آمریت اړوند سردسیره او ګرم سیر ولسوالیو کې مالي کال ترپایه د ښوونځیو لوړېدنه د لومړني دورې څخه منځنۍ دورې ته او له منځنۍ دورې څخه لیسې ته د وضع شویو شرایطو دنه پوره کیدنې له امله ندي لوړ شوي.

**1.8 فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛**

د ارزګان ولایت پوهنې ریاست دعمومي زده کړو آمریت اړوند د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه د ښوونځیو جلاکول، نوم بدلول، ادغام، دجنسیت بدلون، داقلیم بدلون له سببه د ښوونځیو انتقال دیو ځای څخه بل ځای ته د ضرورت او غوښتنو دنشتوالي له امله ندي ترسره سوي.

**1.9 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت دبودیجې دنشتون له امله نده ترسره شوی.

**1.10 فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسې او ثانوي مدیریت لخوا له ۵۲۳ تنه مجاهدینو څخه ازموینه واخیستل شوه چې له ازموینې څخه وروسته ټولګیو ته ور وپیژندل شول.

**1.11 فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسې او ثانوي مدیریت لخوا په مرکز او ټولو ولسوالیوکې د همکارو مؤسسو له لوري ۱۲۰ تسریعي ټولګي او همدارنګه ۸۷۷ د سیمه اییزو زده کړو ټولګي ایجاد شوي دي، چې ډیر زده کوونکي د تعلیم د لوی نعمت څخه برخمن شوي دي.

**1.12 فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند اساسې او ثانوي مدیریت لخوا په مرکز ترینکوټ،ګیزاب او چوري ولسوالۍ کې ۳۰ د څارندوی ټیمونه جوړ شوي دي او ۲ د ترافیک او اطفائیه ټیمونوپه مرکزکې ایجاد شویدي.

**1.13 فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا په مرکز ترینکوټ کې ۴ دانې پروګرامونه د بروشرونو له لارې او همدارنګه ۵۶ پروګرامونه په مرکز ترینکوټ،(چوره او خاص ارزګان) ولسوالۍ کې د جوماتونو د ملا امامانو له طریقه دسواد د اهمیت په اړه ترسره شوي دي.

**1.14 فعالیت: د سیمه اییزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول؛**

د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د سواد زده کړې مدیریت اړوند په مرکز ترینکوټ او(دهراود، چوره، چنارتو، خاص ارزګان، ګیزاب او چهارچینو) ولسوالی کې ۴۶ بابه ښوونځي شتون لري، چې په یادو ښوونځیو کې ټولټال ۷۴۰ تنه زده کوونکي زده کړې کوي چې د ۲۳ تنه ښوونکو لخوا ورته تدریس کیږي.

**1.15 فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتي د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت لخوا په مرکز ترینکوټ کې ۱۰ تنه اوپه خاص ارزګان ولسوالی کې ٦٠ تنه راستنیدونکي زده کوونکي دسواد حیاتې ښوونځیو ته معرفي شوي دي.

**1.16 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**
د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د سواد زده کړې مدیریت لخوا د مالي کال ترپای پورې ۷۴۰ تنه نالوستي کسان د سواد زده کړې په کورسونو کې جذب شوي دي.

**1.17 فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت اړوند په خاص ارزګان ولسوالی کې ٦٠ تنه جذب شوي دي او همدارنګه دملا امامانو لخوا په چوره کې ۲۷۵تنه اوپه چنارتو ولسوالی کې ۲٦٦تنه شاګردان جذب شوي دي.

**1.18 فعالیت: د هېواد په کچه د سواد زده کړې کورسونه رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړې مدیریت اړوند په چوره ۱۰ بابه، چنارتو ولسوالی کې ۱۱ بابه کورسونه د ملا امامانو له طرفه رامنځته شوي دي او همدارنګه په خاص ارزګان ولسوالی کې ۳۹ بابه کورسونه د کوچیانو لپاره رامنځته شوي دي.

**1.19 فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې هیڅ یو ښوونځی او کورس ندی تأسیس شوی او همدارنګه د ښوونځیو ارتقاء هم نده ترسره شوې.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د اسلامي زده‌کړو آمریت اړوند ټولټال ۲۳۸ بابه رسمي دیني بنسټونه تأسیس شوي دي. له دې شمېرې څخه ۷۸ بابه یوازې په مرکز ترینکوټ او شپږو ولسوالیو کې جوړ شوي دي، چې په تفصیل سره: ۱۵ په خاص ارزګان، ۲۰ په دهراود، ۴٦ په چهارچینو، ۲۰ په چوره، ۳۰ په ګیزاب او ۲۹ په چنارتو ولسوالی کې تأسیس شوي دي.

**2.2 فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بڼې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده‌کړو آمریت اړونـد د انکشاف مسلکي غړو لخوا د مرکز ترینکوټ، چوره، دهراود او خاص ارزگان ولسوالیو په کچه د ۴۵ بابه خصوصي دیني مرکزونو څخه څارنه شوې ده. له دې شمېرې څخه ۳۰ بابه په مرکز ترینکوټ، ۴ بابه په چوره، ۷ بابه په دهراود او ۴ بابه په خاص ارزگان ولسوالی کې تر څارنې لاندې نیول شوي دي.

**2.3 فعالیت: د ۱۵۰۰۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده‌کړو آمریت لـه لـوري د دینـي زده‌کـړو د معیـاري کولـو او تثبیت په موخه، ۸۱۸ تنه علما د ۱۲م ټولګي، ۶۷۸ تنه د ۱۴م ټولګي او ۳۵۸ تنه حافظان د حفظ تثبیت لپاره ارزول شوي او تثبیت شوي دي.

**2.4 فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې دنشتون له امله ندی ترسره شوی.

**2.5 فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز ترینکوټ او ټولـو ولسـوالیو کې ۳۰۰ تنه طالب العلمانو ته دلیلیې ترتیب برابر شویدی.

**2.6 فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې پـه ۱۳ او ۱۴ ټولګیـو او د دارالعلـوم پـه لـومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**
په ارزگان ولایت کې ۱۳ او ۱۴ ټولګي نه لرو چې علماء کرام ورته جدیدالشمول کړو.

**2.7 فعالیت: د ۷۷۰۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول او نیمه عالي دارالحفافظونو ته د ۳ بابه دارالحفاظونو لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کـې د نارینه ؤ لپاره ټولټال ۲۳۸ بابه دیني مدرسې او ۲۰بابه دارالحفاظونه تأسیس شوي دي.

**2.8فعالیت: د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ۶۰۰ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې،د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې ټولټـال ۷۷ کلیـوالي مدرسـې او پـه تعداد ۱۰ کلیوالي دارالحفاظونه جوړ شوي دي.

**2.9 فعالیت: د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ۱۶۰۰۰ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت د بودیجې دنشتون له امله ندی ترسره شوی.

## 3. سرچینې او اداره

**3.1 فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کارکوونکوچاروعمومې مدیریت له لوري نویو تأسیس شـویو ښـوونځیو، ښـوونیزو او اداري مرکزونـو تـه د تشکیل هارډ کاپي لیږل شوې ده.

**3.2 فعالیت: د ښوونځیو د تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**
د ارزگان پوهنې ریاست د مالي او اداري آمریـت اړونـد د کـارکونکو چـارو عمـومی مـدیریت لخـوا د مـالي کـال ترپایـه د ښـوونځیو،ارتقاء (دلومړنې څخه منځنې ته او د منځنې څخه لېسی ته ) د اړوند ادارو دغوښتنو د نشتوالي له امله صورت ندی نیولی.

**3.3فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکیلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت له لوري تشکیلاتي احصائیه نهایي شوې ده او د منظورۍ په موخه د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل شوې ده.

**3.4 فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د بشري سرچینو مدیریت له لوري د مرکز، ولسوالیو او د مضمون په اساس د ښوونیزو مرکزونو دلایحو څخه بیا کتنه ۱۰۰فیصده ترسره شوه، چې د یادو ادارو لایحو کې کوم مشکل نده موندل شوی.

**3.5 فعالیت: د برېښنايي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو ... د ثبت او د څارنې د څرنگوالي په موخه د یو تخنیکي ټیم ټاکل او لیږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ټیم ندی راغلی ترڅود بریښنایي سیستم د تطبیق او همدارنگه د جنسونو د محاسبې اوعامه جایدادونو د ثبت او د څارنې د څرنگوالي څخه څارنه ترسره کړي.

**3.6 فعالیت: په ولایتونو کې د دیخیلو ادارو لخوا د ماینونو او چاودیدونکو موادو د خطرونو په اساس مسؤلینو، ښوونکو او زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابرول، لارښوود چمتو کول او پوسترونه ویشل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ټیم نده راغلی.

**3.7 فعالیت: په ولایتونو کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو بشپړول؛**
د ارزگان پوهنې ریاست د املاکو مدیریت اړوند نیمه بشپړ شوې پروژې د بودیجې د نشتون له امله ندي ترسره شوي.

**3.8 فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې همکارو مؤسسو په دې برخه کې هیڅ همکاري نده کړې.

**3.9 فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو آمریت اړوند د املاکو مدیریت له لوري د اسلامي امارت د بودیجې په چوکاټ کې، په مرکز ترینکوټ کې ۴ ښوونځي، په چنارتو ولسوالی کې ۱ ښوونځی، په خاص ارزگان ولسوالی کې ۳ ښوونځي، په چوره ولسوالی کې ۳ ښوونځي، په گیزاب ولسوالی کې ۳ ښوونځي او په دهراود ولسوالی کې ۳ ښوونځي او همدارنگه ۴ اداري تعمیرونه په مرکز ترینکوټ کې جوړ شوي دي. خو د همکارو مؤسساتو له بودیجې څخه هیڅ ساختماني پروژه نه ده ترسره شوې.

**3.10 فعالیت: د مرکز او ولایتونو څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**
د ارزگان پوهنې ریاست د املاکو مدیریت اړوند دپوهنې ریاست په سطحه دبنسټېزو او ترمیماتي پروژو دقیمت ورکولو په موخه دساختماني موادو ټول نرخونه په خپل وخت راټول او په اړه یې اجراآت ترسره شویدي.

**3.11 فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت دپوهنې ریاست اړوند په چهارچینو ولسوالی کې د ۸ بابه ښوونځیو لپاره د کلي دخلکو لخوا خپله شخصي ځمکه وقف کړیده.

**3.12 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو آمریت اړوند د املاکو عمومي مدیریت لخوا په مرکز ترینکوټ کې ۷ ښوونځیو، په چوره ولسوالی کې ۱ ښوونځی او په خاص ارزگان او دهراود ولسوالیو کې ۷ ښوونځیو د غصب ځمکه دوسیې خلاصې شوي دي. همدارنگه، په مرکز ترینکوټ کې د قلعه نو ښوونځي ۱۵ جریبه ځمکه، د خیروکاریز ذکور ښوونځي ۳ جریبه ځمکه، او په چهارچینو ولسوالی کې د کشي او یخدان ښوونځیو ځمکې هم تر دعوې لاندې دي.

## ۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور

**4.1 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او پوهنې ریاستونو استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**

د ارزگان پوهنې ریاست ته د څلورمې ربعې ترپایه چې څومره مکتوبونه،فرمانونه او مصوبې له پوهنې وزارت څخه راغلي دي په خپل وخت اړوندو شعبو ته تکثیر شوي دي او همدارنگه د مراجعینو کارونه هم په ښه شکل سره سرته رسیدلي دي.

# 3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رڼو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندی کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

## ۱. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د هېواد د ولایتونو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د گمارنې له څرنگوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو دگمارنې له څرنگوالي څخه څارنه د بودیجې د نشتون له امله نده ترسره شوې.

**1.2 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په مرکز او ولایتونو کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروگرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت څخه د مولوي پاینده محمد تعلیم چې د پوهنې وزارت کې د چارو د سمون رئیس او ورسره پلاوي ارزگان ولایت سفر وکړ چې د همکارو مؤسسود هوکړه لیکونو څخه ډاډ ترلاسه کړي.

**1.3 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د اړتیاؤ ارزولو او د ستونزو د پیژندلو په موخه د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه څارنه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې د مرکز څخه تیم ندی راغلی چې د مسلکي پراختیا او ساینس مرکز څخه څارنه ترسره کړي.

**1.4 فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د علمي اوکادري غړو پیشنهاد د پوهنې وزارت محترم مقام ته ندی شوی، ځکه چی دعلمي غړومقرري د وزارت له لوري معطل دي.

**1.5 فعالیت: د کابل ښار په ګډون په ولایتونو کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو لخوا په مرکز ترینکوټ کې سیدالخان عالي لیسې له شورا څخه څارنه ترسره شوه، چې د یادې څارنې په نتیجه کې د لیسې شورا کارونه په ډېرښه معیار سره روان وه.

**1.6 فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو لخوا په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې د ۲۲۷ بابه ښوونځیو څخه حمایوي څارنه ترسره شوه او همدارنګه د محلي او سیمه اییزو کورسونو څخه څارنه د بودیجې د نشتون له امله ندی ترسره شوې.

**1.7 فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ٦٩١٥٦ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**

د ارزګان پوهنې ریاست دعمومي زده کړو آمریت اړوند د انکشاف مسلکي غړو لخوا د مالي کال ترپایه په مرکز ترینکوټ او (۷) ولسوالیو کې د(۲۷۰) تنه ښوونکو،(۱۱۳) تنه سرښوونکو او (۵۷) مدیرانو روزنیزي اړتیاوي په ډاګه شوي او روزنې ته یې په اړونده برخه کې اړتیا لیدل شوې ده او په دی برخه کې دسواد زده کړو دښوونکو لیدنه دوسایطو دنشتون له وجې نده ترسره شوی.

**1.8 فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو علمي غړو څخه ۱۲ میاشتني،۴ ربعوار او یو کلنی راپور ترلاسه شوی چې د تحلیل او توحید څخه وروسته وړاندې شوی ده.

**1.9 فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوی مدیریت لخوا د پوهنې وزارت محترم مقام څخه کوم هوکړه لیک ندي رالیږل شوی.

**1.10 فعالیت: د ولایتي ریاستونو له لارې په کابل ښار او ولایتونو کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوی مدیریت لخوا د انجونو د زده کړو په وړاندې ستونزې ندي په ډاګه شوي،ځکه چې له شپږم څخه پورته دانجونو ښوونځي تر امر ثاني پورې بندي دي.

**1.11 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت ندی ترسره شوی، ځکه چې تر اوسه چا غوښتنه نده کړې.

**1.12 فعالیت: د سیمه ایزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ کال په په پای کې دولتي ښوونځیو ته لیږدول کیږي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوي مدیریت لخوا د سیمه ایزو ټولګیو څخه په مجموع کې ۱۸۰۵ نارینه او ۱۳۰۷ ښځینه زده کوونکي ښوونځیو ته لیږدول شوي دي، چې ټولیزه شمېره یې ۳۱۱۲ تنه کیږي. د چټکو زده کړو ټولګیو احصائیه بیا بیا د همکارو مؤسساتو لخوا زموږ سره نه ده شریک شوې.

**1.13 فعالیت: په بیړنی حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوي مدیریت ته ۸ تنه زده کوونکو مراجعه کړې چې یاد زده کوونکي له بهر څخه راستانه شوي دي.

**1.14 فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان WHO او د خوړو نړیوال پروگرام WFP په مرسته د هېواد په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د الیندازول د ټابلیټونو ویشل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوی مدیریت لخوا د ارزگان ولایت په ټولو ولسوالیو کې په تعداد ۱۶۴۰بابه ښوونځیو، مدارسو،دمحلې اوچټکو زده کړو مرکزونو کې د ۱۴۶۸۱۰زده کوونکو ته البنډازل گولی توزیع شوي دي.

**1.15 فعالیت: د کابل ښار پوهنې ریاست په ګډون په ټولو ولایتونو کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي اوثانوی مدیریت لخوا د څارندوی ټیمونو له لارې په مرکز ترینکوټ کې د مخدره موادو پر وړاندې تبلیغات ترسره شوي دي چې د یادو تبلیغاتو له امله ۲۱۱۳ تنه کسان مستفید شوي دي.

**1.16 فعالیت: د وړتیاوو د معلومولو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د اساسي او ثانوي مدیریت لخوا د وړتیاوو د معلومولو ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه ۱۱ ورزشي سیالۍ په مرکز ترینکوټ او خاص ارزگان ولسوالۍ کې په لاره واچول شوې.

**1.17 فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزگان ولایت پوهنې ریاست د عمومي زده کړو آمریت اړوند د سواد زده کړو برنامو څخه د مرستې او ملاتړ په موخه ۹ غونډې جوړې شویدي چې د یادو غونډو له جملې څخه ۳ په مرکز ترینکوټ او ۶ غونډې( خاص ارزگان، دهراود، چوره، گیزاب،چهارچینی اوچنارتو) ولسوالی کې جوړې شوي دي.

**1.18 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه یاد فعالیت د بودیجې دنشتون له امله نده ترسره شوی.

## ۲. اسلامي زده کړې

**2.1 فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو ډیپلوماټیک او ثبت شوي اتشې سندونو ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت لخوا د ۱۶۳ تنه علماء کرامو د ۱۲ ټولګي ته او همدارنګه د ۲۰۰ تنه علماء کرامو د ۱۴ ټولګي سندونه ارزول شوي دي.

**2.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت د انکشاف د مسلکي غړو لخوا په مرکز ترینکوټ او ټولو ولسوالیو کې ۷۴ کتنې ترسره شوي دي، چې د څارنو په نتیجه کې معلومه شوه چې یادو غړو فعالیتونه په منظم او ښه ډول ترسره کړي دي خو د مرکز څخه هیئت ندی راغلی چې کتنې ترسره کړي.

**2.3 فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی،څکه چې دارالعلومونو استادانو د کادر شرایط ندي پوره کړي چې کادري امتیاز ورته اجرا شي.

**2.4 فعالیت: له ۳۰۷۶۹ تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخیستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۳۰۷۶۹ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، دثانویه دورې ٦۷۸تنو او ۲۸۴تنودمافوق الثانویه درجې طالب العلمانو په مشترک امتحان لپاره ثبت نام او ګډون کړی ،۳۰۸ تنو ته ۱۲ټولګې شهادت نامې ویشل شویدې او همدارنګه ۵۷۱ تنو ته د مشترک امتحان د۱۴شهادت نامې ویشل شویدي.

**2.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په مرکز ترینکوټ کې یوه د قرانکریم سیالی په لاره واچول شوه، چې د هرې ولسوالۍ څخه دوه نفرو ګډون کړی وه چې ټولټال ۱۴ تنه کیږي.

## 3. سرچینې او اداره

**3.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بشري سرچینو د راجستریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول د خالي بستونو په ډاګه کول؛**
د ارزګان پوهنې ریاست د کارکوونکو چارو مدیریت له لوري د څلورمې ربعې تر پایه ۲۸۱ خالي بستونه په مرکز ترینکوټ او ۲۲۵ خالي بستونه په (چهارچینو،ګیزاب،خاص ارزګان،چنارتو،دهراود او چوره) ولسوالۍ کې پیژندل شوي دي.

**3.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجستریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**
دارزګان ولایت د پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو آمریت اړوند د کارکونکو چارو عمومې مدیریت لخوا د څلورمې ربعې ترپایه ټولټال۱۳٦۳ تنه کارکونکي ثبت او راجستر شوي دي.

**3.3 فعالیت: د تبدیلی او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کارکوونکو چارو مدیریت له لوري د ٦٦۴ خالي بستونو په اړه معلومات د تبدیلی او بست لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه د استخدام ریاست ته ورکړل شوي دي.

**3.4 فعالیت: د ۲۵۰۰۰ هویت/پیژند کارتونو چاپ او ویش؛**

د ارزگان پوهنې ریاست د کارکوونکوچارو مدیریت له لوري د مالي کال ترپایه د ارزگان پوهنې ریاست په سطحه ټولټال ۱۹۲ تنه کارمندانو ته د هویت/پیژند کارتونه چاپ او ویشل شوي دي.

**3.5 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت؛**

د ارزگان پوهنې ریاست اړوند د کارکوونکو چارو مدیریت لخوا مالي کال ترپایه د پوهنې ریاست په سطحه (۱۱۳) تنه مامورین، ۱۱ تنه ښوونکي،(۱۱٦۵) تنه استادان چې ټولټال (۱۲۸۹) تنه کیږي د تدریسي او اداري چارو دسمون په موخه ګمارل شوي دي.

**3.6 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو د بست او قدم لوړول بیاکتل او د پړاوونو بشپړول؛**

د ارزگان پوهنې ریاست د کارکوونکو چارو مدیریت لخوا د پوهنې ریاست په سطحه د ۴۰۵ تنه ښوونکو ارزونه شویده او همدارنګه د ۲۲ تنه مامورینو او ۱۸ تنه ښوونکو بستونه لوړ شوي دي.

**3.7 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول؛**

د ارزگان پوهنې ریاست اړوند د کارکوونکو چارو عمومي مدیریت لخوا مالي کال ترپایه پورې د پوهنې ریاست په سطحه ۱۱ تنه چې ۹ تنه ښوونکې او ۲تنه صفاکاران په شرایطو برابر تقاعد ته سوق شوېدي.

**3.8 فعالیت: د راتلونکي امنیتي پیښو د مخنیوي په موخه، له ولایتونو څخه میاشتني، درې میاشتني او کلني امنیتي راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، ۱۲ میاشتني راپورونه ترلاسه شوي دي چې خوشبختانه په ارزگان ولایت کې د ښه نظم او امنیت په خاطر کومه امنیتي پیښې په اړه راپور نه لرو.

**3.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د ونډې سره سم دچټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیمول او توظیفول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې د پوهنې ریاست دوه عراده بارېري موټران لري چې د بودیجې دنشتون له وجې غیرفعال دي.

**3.10 فعالیت: د پوهنې وزارت د مرکزي او ولایتونو ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع چاپي او غیر چاپي قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل؛**

د ارزگان پوهنې ریاست ته چې څومره مطبوع قرطاسیه او مینځوونکي مواد راکړل شوي و د مالي کال ترپایه ټوله قرطاسیه په خپل وخت مرکز او ولسوالیو ته ویشل شوېده.

**3.11 فعالیت: د پوهنې اړوند ریاستونو د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ۴۴۰۰۰ پایې میزونو او څوکیو تولیدول او جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د خدماتو مدیریت له لوري ۵۰۰ چوکۍ او میزونه ترمیم شوي دي.

**3.12 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د ۵۹ نه بشپړ شویو پراختیایي ساختماني پروژو د قرارداد له تطبیق څخه مدیریت کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، یاد فعالیت نده ترسره شوی، ځکه چې له مرکز څخه ټیم نده راغلی ترڅو دنه بشپړ شویو پراختیایي ساختماني پروژو دقرارداد له تطبیق څخه مدیریت ترسره کړي.

**3.13 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اړتیا او لاربوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو آمریت ا ړوند د املاکو مدیریت له لوري په مرکز ترینکوټ او همدارنګه (چنارتو،خاص ارزګان،چوره،ګیزاب او دهراود) ولسوالیو کې د ۱۸ بابه ښوونځیو د ترمیم څخه څارنه ترسره شوې ده او همدانګه د ۳ اساسي پروژو کارونه دبودیجې دکمبود له امله توقف شوي دي.

**3.14 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې د کرایي ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، په ارزګان ولایت کې کانتینونه د طرزالعمل د نشتون له امله ندي ورکړل شوي.

**3.15 فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرګندول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست د مالي او اداري چارو آمریت اړوند د املاکو مدیریت لخوا په مرکز ترینکوټ کې د ۴ بابه اداري او همدارنګه په ټولو ولسوالیو کې د ۱۸ بابه ښوونځیو څخه تخنیکي نظر څرګند شویده چې د یادو ښوونځیو ترمیم داسلامي امارت له بودیجې څخه شویده.

## ۴. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور

**4.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان پوهنې ریاست اړوند د دفتر عمومي مدیریت له لوري چې۲ دریم بستونه او ۱ څلورم بست د ازموینې په موخه د پوهنې وزارت محترم مقام ته پیشنهاد شوي دي.

**4.2 فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یاداښت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د (کې،ار،او) مؤسسې سره تفاهم نامه لاسلیک شوې ده چې د ښوونځیو،مدرسو او محلي ټوالګیو د غذایي موادو په برخه کې کارکوي.

**4.3 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او طرزالعملونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینګول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پوري،۱۰ دانې متحدالمال مکتوبونه او متفرقه مکتوبونه تعقیب شویدي، ۷۹۸ دانې مکتوبونه اخیستل شوي او په خپل وخت اړوند شعباتو ته احکام شویدي، ۴ دانې سندونه ترلاسه شوي دي،۱۰ دانې فرمانونه اړوند شعباتو ته تکثیر شویدي او ۱۰۸ دانې پیشنهادونه د وزارت مقام ته وړاندې شویدي.

**4.4 فعالیت: د ولایتونو څخه د تر لاسه شویو راپورونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت محترم مقام څخه ارزګان ولایت ته ۱۰ ځلې هیئت راغلې دي او د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست ٦ ځلې د ریاست څخه د کارکوونکو خدمتې اسناد طی مراحل شوي دي.

**4.5 فعالیت: د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړونده مرجعو ته یې استول؛**

د ارزګان پوهنې ریاست ته د مالي کال ترپایه ۷۸٦ سندونه کارشناسي شوي دي، په ۲۵ سندونه د دفترعمومي مدیریت ته راجع شوي دي چې له هر اړخیزې کتنې څخه وروسته اړونده مرجعو ته لیږل شوي دي.

**4.6 فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړ او تقویتي پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د کوچیانو دښوونیزو چارو د ملاتړ په موخه ۹ سندونه د پوهنې وزارت محترم مقام څخه ترلاسه شوي دي.

**4.7 فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د د رهبرۍ د ځانګړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د دفتري کارونو د واحدونو ترمنځ ښه همغږي،تقویت او پروګرامونه په خپل وخت په ښه شکل سره ترسره شوي دي او همدارنګه د محترم ریس صاحب خاص پریکړه ندہ ابلاغ شوې.

**4.8 فعالیت: په ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې ریاست اړونده پنځو برنامو ته د ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان جوړ او استول شوی دی او همدارنګه د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته عملیاتي پلان استول شوی دی.

**4.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونیرو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست په کچه دښوونیزو مرکزونو دجوړلو ملي پلان تر تحلیل، انسجام او توحید وروسته دپوهنې وزارت مقام سره شریک شوی.

**4.10 فعالیت: په مرکزي او ولایتي کچه د انکشافي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت پوهنې ریاست اړوند د پلان مدیریت له لوري په مرکز ترینکوت او (ګیزاب،خاص ارزګان، چنارتو او چهارچینو) ولسوالۍ اړوند ۱۰ بابه انکشافي پروژو کانسپټ نوټونه جوړ شوي دي.

**4.11 فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو سره شریکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه ارزګان پوهنې ریاست سره شریکه شوې وه چې د لازمو نظرونو او مشورو څخه وروسته د پوهنې وزارت سره شریکه شویده.

**4.12 فعالیت: دمرکزي او ولایتي ریسانو او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان پوهنې ریاست محترم رئیس صاحب، د برنامو آمرینو او د ولسوالیو د پوهنې د آمرینو کاري پلانونه ترتیب شوي دي.

**4.13 فعالیت: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې مرکزي او ولایتي واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د پوهنې وزارت دپلټنې ریاست څخه ټیم راغلی و تر څو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو اوکړنو څخه پلټنه اوکتنه ترسره کړي.

**4.14 فعالیت: د عدلي او قضایي ارګانونو د قرار کشفي ځانګړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو، بهرنیو ادارو او اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز ترینکوټ دپوهنې آمریت اړونده سیدالخان عالي لیسې یو زده کوونکی چې په غیرې قانوني ډول نهم ټولګي ته په نتایجو کې بریالی شوی وه چې د پلټنې په نتیجه کې د پوهنې ریاست د هدایت سره سم بیرته په نهم ټولګي کې شامل شو چې د نوموړې زده کوونکي دوسیه نهایي شوې ده او اړونده ادارو ته ابلاغ شوې ده.

**4.15 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مختصر نصاب تدریس، د کارکوونکو څخه د ازموینې اخیستل او د اصلاحي پروګرامونو پلي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د ارزګان ولایت د پوهنې ریاست اړوند د دعوت او ارشاد د مسؤل له لوري په مرکزترینکوټ کې د (۳۵۰) کارکوونکو ته د اسلامي امارت د اصولو سره سم د مختصر نصاب تدریس ورته کیږي.

**4.16 فعالیت: د مرکز او ولایتونو کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسۍ پربنسټ د اولوالامر اطاعت کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپای پورې، د مرکز او ولسوالیو (۷۵۶) تنه کارمندانو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت دپالیسۍ پر بنسټ داولوالامر اطاعت کولو ته رابلل شوي دي.

## دریمه برخه

### د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه

- په دې برخه کې اجراآت ندي ترسره شوي.

# خلورمه برخه

## تحلیل او پایلې

| دویمه برخه: کیفیت او تړاو | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | فعالیتونه | شاخص | کلنۍ موخه | کمي پرمختګ | د پرمختګ سلنه | د فعالیت حالت: بشپړ شوي | تر کار لاندې | نا پیل شوي | ځنډول شوي | د بشپړ شویو فعالیتونو پایلې | نا پیل شویو، ځنډول شویو نه بشپړ شویو فعالیتونو لاملونه |
| ۱. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| 1.1 | د مرکزي او ولایتي ښوونځیو دکتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول؛ | د خارل شویو ولایتي کتابتونونو شمېر | 10 | 0 | ۰٪ | | | √ | | | یاد فعالیت د وسایطو د نشتون له امله نده ترسره شوی |
| 1.2 | په مرکز او ولایتونو کې د سواد زده کړو د د خلورمې سویې 4-6 ټولګي کتابونو تجربوي تطبیق؛ | د تطبیق شویو ولایتونو شمېر | 1 | 0 | ۰٪ | | | √ | | | د مرکز څخه ټیم ندی راغلی ترڅو د کتابونو تجربوي تطبیق ترسره کړي |
| 1.3 | د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛ | د سواد زده کړو د خارل شوو کورسونو شمېر | 15 | ۱۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | ځینې نیمګړتیاوې په ګوته او لازمې سپارښتنې ورته وشوې | |
| ۱,۴ | د ولایتونو په کچه د علمي غونډو مربیانو ظرفیت لوړول؛ | د مرکزي ټیم لخوا د روزل شوو ولایتي علمي غونډو شمېر | 13 | ۱۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | ظرفیت لوړونه رامنځته شوې ده | |
| | | د ولایتي ټیمونو لخوا د ولسوالیو په کچه د روزل شوو علمي غونډو شمېر | ۴۸ | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د ذکرشوی شاخص دترسره کولو لپاره نقلیه وسایط او بودیجه نلرو |
| 1.5 | د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غونډو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛ | د روزل شوو علمي غونډو شمېر | 61 | ۳۸۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | عامه پوهاوی زیات شویدی | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1.6 | کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلي کیدو په موخه لازم چمتوالی؛ | د جواز ورکولو سیستم د معرفی کولو په برخه کې د روزل شوو کارکوونکو شمېر | 61 | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه تیم نده راغلی ترڅو د جواز ورکولو په برخه کې کارکوونکو ته روزنه ورکړي |
| 1.7 | د لابراتوارنو د اړتیاوو معلومولولپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛ | د سروې اوحمایوي ترسره شوي څارنې شمېر | 1 | ۸ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.8 | د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛ | د ترسره شوو کتنو شمېر | 1 | ۷ | ۱۰۰٪ | √ | | | | عامه پوهاوی زیات شوی دی | |
| 1.9 | د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانټ لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 9 | ٦ | ٦٧٪ | | √ | | | | |
| 1.10 | ذ مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش Dewormin WASH په برخه کې د خاروندی د تروپ ګروپونو او بدني روزني ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛ | د دایرشوو ورکشاپونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د بدني روزني د مسلکي او غیر مسلکي روزل شوو ښوونکو شمېر | 10 | ۱۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د اصول صنفي روزل شوو ښوونکو شمېر | 4 | ۵ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | د روغتیا په برخه کې د ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او مسلکي روزل شوو غړو شمېر | ٦٥ | ۴۰ | ٦٢٪ | | √ | | | | |
| | | د روغتیا په برخه کې له روزنو د برخمن شویو زده کوونو او ښوونکو شمېر | 600 | ٦۲۰ | 100% | √ | | | | | |
| 1.11 | د څارني ارزوني له مخې د قابلیتونو د ارزوني په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لاربښوونو ترتیبول او ملي کول؛ | | | | | | | | | | |
| 1.12 | د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لاربښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛ | د روزل شوو ګډونوالو شمېر | 2 | 86 | 100% | √ | | | | د سواد زده کړې پروګرامونو د تطبیق په برخه کې عامه پوهاوی زیات شویدی | |
| 1.13 | د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛ | د تشخیص شویو او جلب شویو بشري سرچینو شمېر | 7 | 0 | 0% | | | | √ | | د فقر او غربت له امله مرسته نده ترلاسه شوي |
| | | د ترلاسه شوي بودجې اندازه افغانۍ | 14000 | 0 | 0% | | | | √ | | |
| 1.14 | د سیمه ییزو خلکو رضا کارانو له لارې د ۱۸ ولایتونو په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛ | د سواد کمېټو د ترسره شویو غونډو شمېر | 30 | 35 | 100% | √ | | | | | |
| 1.15 | د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛ | د هغو ولایتونو تحلیل او ارزونه چې لږخصوصي ښوونځي لري | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | له مرکز څخه ټیم نده راغلی |
| ۲.اسلامي زده کړې | | | | | | | | | | | |
| 2.1 | دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛ | دارالعلوم ته د ارتقاء شویو مدرسو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | ارتقاء شرایط یې ندي برابر کړي |
| 2.2 | د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | 228 | ٢٠ | ٨٪ | | √ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تدريسي غړو لېږل؛ | د کتل شويو او بررسي شويو دارالعلومونو شمېر | 57 | ١ | ٢٪ | | √ | | | | |
| 2.3 | په مرکز او ولایتونو کې د نويو مقرر شويو کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه د لاربنوونې سيمينارونو دايرول؛ | د ولايتي داير شويو سيمينارونو شمېر | 1 | ١ | 100% | √ | | | | د نويو مقرر شويو کارکوونکو ظرفيت لوړ شويده | |
| 2.4 | د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدريسي کارونو د بياکتنې او ارتياؤ معلومولو په موخه د علمي او تدريسي غړو ورلېږل؛ | د معلوم شويو اړتياؤ شمېر | 228 | ٢٢٨ | 100% | √ | | | | | |
| | | د کتل شويو مدرسو او دارالحفاظونو شمېر | 57 | ۴۴٦ | 100% | √ | | | | | |
| 2.5 | په شته ډيتابيس کې د علماء کرامو د ازموينو ثبتول؛ | د ثبت شويو علماء کرامو شمېر | 514 | ٩٦٢ | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| 2.6 | په مرکز او ولايتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نويو درسي کتابونو د ورپيژندلو په موخه د ورکشاپ دايرول؛ | د روزل شويو ښوونکو شمېر | 21 | ٢١ | ١٠٠٪ | √ | | | | عامه پوهاوی زيات شويده | |
| 2.7 | د مدرسو فارغين په عاليه او عالميه ازموينو کې ثبتول. | د ثبت شويو فارغانو شمېر | 57 | ٨٢٦ | 100% | √ | | | | | |
| ۳. د کيفيت تضمين | | | | | | | | | | | |
| 3.1 | د ولايتونو او ولسواليو په کچه د کيفيت لرونکو احصاييوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفيت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛ | د ولايتونو په کچه د داير شويو ورکشاپونو شمېر | 10 | ١٠ | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| 3.2 | د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاييوي ارقامو 10٪ کتنه او تصديق؛ | د ارقامو د تصديق شويو راپوروڼو شمېر | 1 | ١ | ١٠٠٪ | √ | | | | | |
| 3.3 | د ډيتاسيټونو، ولايتي پروفايلونو، د احصايي او معلوماتو تحليلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصايې ترتيبول او د | نشراتو رياست ته د لېږل شويو پروفايلونو شمېر | 1 | ١ | ١٠٠٪ | √ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نشراتو ریاست ته استول؛ | | | | | | | | | | |
| 3.4 | د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهني اطلس په بڼه د ۱۴۰3 هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.5 | د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛ | د مختصاتو د راټولولو په موخه د پلان شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 447 | ۴٦٢ | 100% | √ | | | | | |
| 3.6 | د برې لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛ | په ګروپي بڼه د وېشل شویو برې لیکونو شمېر | 193 | ۲۲۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.7 | د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو برې لیکونو/شهادتنامو وېشل؛ | د سپینو وېشل شویو برې لیکونو شمېر | 1000 | 0 | 0% | | | √ | | | له مرکز څخه ندي رالیږل شوي |
| 3.8 | د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛ | د دولتي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | 28 | 259 | 100% | √ | | | | | |
| 3.9 | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخو کې د روزل شویو کارکوونکو شمېر | 14 | ۴۲ | ۱۰۰٪ | | √ | | | د راپور ورکولو په برخه کې ظرفیت لوړ شویده | |
| 3.10 | د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛ | د ولایتونو د څارل شویو پوهنې ریاستونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | | √ | | | لازم اصلاحات به رامنځته شوي دي | |
| 3.11 | د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛ | د ولایتونو د پوهنې په برخه کې د اړوند مؤسسو د څارل شویو پروژو څخه د ترتیب شویو توحیدي راپورونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | | √ | | | | |
| 3.12 | د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او | د ولایتونو شمېر چې | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | آنلاین سیستم ندی فعال شوی |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ارزوني په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛ | راپورونه يې د استفادې وړ گرځېدلي | | | | | | | | | |
| 3.13 | د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛ | د ولایتونو شمېر چې سیستم پکې فعال او تطبیق شوی دی | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 3.14 | د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختگ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛ | د ربعوار راټولو شویو راپورونو شمېر | 4 | ۴ | ۱۰۰٪ | | √ | | | | |
| 3.15 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛ | د ترسره شویو کړنو سلنه | 100% | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د مرکز څخه تیم نده راغلی |
| 3.16 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛ | د تطبیق شویو روزنیزو پروگرامونو سلنه | 100% | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د مرکز څخه تیم نده راغلی |
| ۴. سرچینې او اداره | | | | | | | | | | | |
| 4.1 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛ | د ولایتونو په کچه د روزل شویو کارکوونکو شمېر | 5 | 2 | 40% | | √ | | | | |
| 4.2 | د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د ستراتیژۍ طرحې جوړول؛ | د پرمختگ سلنه | 100% | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | د مرکز څخه نده رالیرل شوې |
| 4.3 | د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنايي کول؛ | د پرمختگ سلنه | 100% | ٪۲۵ | ۲۵٪ | | √ | | | | |
| 4.4 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د۸ ملکیت سندونو جوړول؛ | د ترتیب شویو اسنادو شمېر | 5 | ٦۱ | 100% | √ | | | | | |
| 4.5 | د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو | د ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر | 5 | ۵۸ | 100% | √ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | فایلبندي؛ | د ثبت شویو سجلو شمېر | 20 | ۱۰ | ۵۰٪ | | √ | | | | |
| 4.6 | د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛ | د کتل شویو قضیو شمېر | 29 | ۱۲ | ۴۱٪ | | √ | | | | |
| | | د ثبت شویو غصبي او دعوایي اسنادو او دوسیو شمېر | 39 | ۲۲ | ۵۶٪ | | √ | | | | |
| ۵. پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه نشرات، تفتیش، پلان، مخابره او نور | | | | | | | | | | | |
| 5.1 | د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د داد تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛ | ولایتونو شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 5.2 | د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛ | په ولایتي کچه د عرفان د وېشل شویو مجلو شمېر | 850 | ۲۲۳ | ۲۶٪ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د بخوان و بینديش د وېشل شویو مجلو شمېر | 850 | ۱۴۹ | ۱۸٪ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د پوهنې د وېشل شویو اوونیزو شمېر | 1700 | ۸۹۴ | ۵۲٪ | | √ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د وېشل شوې کلیزې شمېر | 45 | 0 | 0% | | | √ | | | دپوهنې محترم وزارت لخوا پر خپل وخت کتابونه او کلیزې ندي رالیرل شوي |
| | | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو بروشورونو شمېر | 180 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| 5.3 | د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛ | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو کتابونو شمېر | 45 | 0 | 0% | | | √ | | | دپوهنې محترم وزارت لخوا پر خپل وخت کتابونه ندي رالیرل شوي |
| 5.4 | د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د وېشلو له پروسې څخه | د کتل شویو ولایتونو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | دمرکز څخه تیم ندی راغلی ترڅو د کتابونو د ویشلو له پروسې څخه |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تخنیکي کتنه؛ | | | | | | | | | | تخنیکي کتنه ترسره کړي. |
| 5.5 | تر پوښښ لاندي ولایتونو د پوهنې ریاستونو د اسلامي زده کړو مرکزونو ته دارالعلومونو او دارالحفاظونو د ۲۸۲۹۷۲ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | دارالعلومونو ته د وېشل شویو کتابونو شمېر | 30811 | 30811 | 100% | √ | | | | | |
| 5.6 | د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۸۱۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 1,300 | 0 | 0% | | | √ | | | دپوهنې محترم وزارت لخوا پر خپل وخت کتابونه ندي رالیږل شوي |
| 5.7 | د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۴۴۹۶۵ ټوکه درسي کتابونو ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 554 | 0 | 0% | | | √ | | | دپوهنې محترم وزارت لخوا پر خپل وخت کتابونه ندي رالیږل شوي |
| 5.8 | په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لوري د کارونو د پراوونو بشپړول؛ | د ولایت په کچه د لیلام شویو کتابونو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | استهلاک کتابونه نلرو ځکه چې دکتابونو دکمښت سره مخ یو |
| 5.9 | د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛ | د روزل شویو ولایتي کارکوونکو شمېر | 4 | ۴ | ۱۰۰٪ | √ | | | | د پلټنې په برخه کې کارکوونکو ظرفیت لوړ شوی ده | |
| 5.10 | د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول. | د پلان شویو سفرونو شمېر | 2 | 1 | 50% | | √ | | | | |
| دویمه برخه: انډولیز لاسرسی | | | | | | | | | | | |
| ۱. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| 1.1 | د ترسره شوِي تحقیق سره سم په ښوونځیو کې د ښوونکو د غیرحاضرۍ د کمولو په موخه د پالیسۍ ازمایښتي تطبیق؛ | د پالیسۍ د ازمایښتي تطبیق سلنه | 100% | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه څوک نه دي راغلي چې ازمایښتي تطبیق ترسره کړي |
| 1.2 | د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | د مسلکي پراختیا پروګرامونه تر امر ثاني پورې ځنډیدلي دي |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1.3 | د ولایتونو په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛ | د پرانستل شوو ښووونځیو شمېر | 46 | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه تیم ندی راغلی ترڅو د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو په اړه لازم اقدامات ترسره کړي. |
| 1.4 | د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوتر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛ | په ولایتي کچه د ایجاد شوو لابراتوارونو شمېر | 3 | ۳ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| | | تعداد لابراتوارهای د تجهیز شوو لابراتوارونو شمېر | 3 | ۱ | ۳۳٪ | | √ | | | | |
| | | د تجهیز شوو کمپیوترلب شمېر | 1 | ۱ | ۱۰۰٪ | √ | | | | | |
| 1.5 | په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛ | دنارینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | 5641 | ۱۱۳۵۸ | 100% | √ | | | | | |
| | | د ښځینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | 810 | ۳۳۰۴ | 100% | √ | | | | | |
| 1.6 | د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛ | د تأسیس شوو ښوونځیو شمېر | 4 | ۰ | ۰٪ | | | √ | | | عریضي د پوهنې وزارت محترم مقام ته استول شوي دي |
| 1.7 | په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانی همغږی پر بنسټ د منځنۍ دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لیسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول؛ | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | د شرایطو دنه پوره کیدو او دتشکیل له امله ارتقاء نده شوې |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0٪ | | | √ | | | |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو مختلط ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| | | له منځنۍ څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| | | له منځنۍ څخه لیسې دورې | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ته د لوړ شوو ښځينه ښوونځيو شمېر | | | | | | | | | |
| | | له منځني څخه ليسې دورې ته د لوړ شوو مختلط ښوونځيو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| 1.8 | جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسيت بدلون، د اقليم بدلون او په مرکز او ولايتونو کې له يوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځيو انتقال؛ | د تجزيه شوو ښځينه ښوونځيو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | د غوښتنې دنشتون له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوی |
| | | د هغودولتی ښوونځيو شمېر جي نوم يې بدل شوی | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| | | د هغو خصوصي ښوونځيو شمېر جي نوم يې بدل شوی | 2 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| | | د مدغم شوو ښوونځيو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| | | د هغو ښوونځيو شمېر چې جنيست يې بدلو موندلی | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| | | د دولتي لیږدول شوو ښوونځيو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| 1.9 | د مرکزي او ولايتي رياستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځيو جوړولو د پروژو د احاطې ديوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو په برخو کې همغږي؛ | د همغږه شوو ساختماني پروژو شمېر | 2 | 0 | 0% | | | √ | | | یاد فعالیت دبودیجې دشتون له امله نده ترسره شوی |
| 1.10 | له بهر څخه راستانه شويو او مجاهدينو د اړتياوو او غوښتنو سره سم د ټولګيو تثبيتول؛ | ولايتونو ته د راستنيدونکو غوښتونکو شمېر | 200 | 0 | 0% | | | √ | | | چا غوښتنه نده کړې. |
